# Pakhtunkhwa پښتونخوا




## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

## ۱۸ مه کښه ۱۹۹۷ کال

Jahrg./vol:1997/11 nummer/ no: 18

## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN**
**Paschtunchwa/Afghanistan- PARTEI DER PASCHTUNEN**



سر لیکونه او لیکوال — مخ


پښتو ژبې دګوا مرپه بوخه کې تیرونې او اثار — ۲
میرمن ماه ګل سلیمان دوست

پښتانه موپښتانه پاتې شي „شعر" — ٦
خان محمد مبارز „ځاپي"

د پښتو د تولنیز اولسولیز ګوند د مشرتوب د — ۷
پښتونخوا د خبریال مرکه:
خبریال عزیز „سرشار"

شهیده „شعر" — ۱۲
عصمت الله „روحاني" „کاناډا"

نوې زیرې — ۱۴
خبریال عزیز „سرشار"

مخ پښتوني — ۱۹
ګل غوټۍ „کونړۍ"

پښتون قامي وحدت — ۲۳


خپرونکی : د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند
پښتونخوا / افغانستان


Herausgeber : SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN PASCHTUNCHWA / AGHANISTANITAN
PUBLISHER : PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



زمه وار
V. S. I. P.
RESPONSIBLE FOR CONTENTS
DR. KABIR STORI
RICHARDSTR.5
50389 WESSELING
GERMANY
TEL. : 02236 / 83463
FAX : 02236 / 841930



Redaktion
Editorial Board

د خپرونې جرګه :

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علیخان ﴿محسود﴾ |
| Hidayat Bangasch | هدایت ﴿بنګش﴾ |
| Mabariz Safi | مبارز ﴿صافي﴾ |
| Aziz Sarshar | عزیز ﴿سرشار﴾ |
| Abdul Nasir Stori | نصیر ﴿ستوری﴾ |
| Gulghutei Kunarei | ګل غوټۍ ﴿کونړۍ﴾ |


# ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan


www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net

## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI
RICHARDSTR. 5
50389 Wesseling - Germany
Tel.: 0049 2236 83463



## Editorial Board /Redaktion د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسیږد) |
| Hedayat Bangash | هدایت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Nasir Stori | نصیر ستوری اپسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |

## چې پښتانه موپښتانه پاتې شي

خان محمد مبارز «خاپې»

چې خاطرې مې د واده پاتې شي — لا مې د ژوند کيسې يوځه پاتې شي
د زړه په کورکښې مې د ننـه دتـا — ورو ځې، ليمه سترګې بانـه پاتې شي
د کمخوتال کې بهدې ځانګـمه — چې په ګوګـل کې مې رو غ زړه پاتې شي
وزې به نه وي تل په ولږه کې هـم — نه به مـاره هم تل ماره پاتـې شي
په ژوندانه کې قانون شي داسـې: — چې د وه خوازه ياران خوازه پاتې شي
ځما د ژوند د خوخوږو شيـبو نـه — سوچ چې مې ستا په خوږه خوله پاتې شي
دا به مې هم د نيکمرغې نښه وي — سرمې چې ستا په زنګانه پـاتې شـي
نـه به اغيار وي لا زمونږ تر منځـــه — نه به هم شپې د بيلتانه پاتـې شـي
کمواړز وي چې د ې ځمکې باندې — خوکارنامې د ژوندانه پـاتې شـي
د دښمن زړه به موخوځا يه وچوي — چې پښتانه موپښتانـه پاتې شـي
اغياره ستا په مرخوبجن ګوډ وکښې — خوبه پښتون تـبر اوده پاتې شـي
پښتانه يودې لا يـوکيـږي په هـم — خوبه په ويش د زه اوته پـاتې شـي
کموائي دا چې لدې کـوره ځنې — کـوربه دې لاړ شي اوميلمه پاتې شـي
زه وايم دا خوانساني قانون دی — چې ميلمه لاړ شي او کـوربه پاتې شـي
خوچې دا ځـمکا و اسمان دې کښنه — پښتانه تل دې په ننګ ملـه پاتې شـي
د مبارز وينا به داسې وي تـل — پښتانه سيمه کې دې او زده پاتـې شـي
خپل مسافرته دې اوربل غـو ړوه — سترګې ئې ستا په انـنګـهـاتې شـي

## ،،ژوندي خيالونه،،

"ژوندي خيالونه" د ډاکټر کبيـر ستوري د شعـرونـو مجـمـوعـه ده چې په کال ۱۹۹۷ ع کې د پښتونخوا په پيښور کې چاپ شوې او د پښتونخوا د خيبر نې مـرکـز له خـوا خـپور شوې . د شعرونو پدې مجموعه (ژوندي خيالونو ) کې ژوندي او ارزښتناك شعرونه راټـول شوي او دلوستلو وړ دي.



## د پښتنو د ټولنيز اولسوليز ګوند د مشر ډاکټر کبير ستوري سره د پښتونخوا د خبريال مـــــرکه

بزيال عزيز يار

پوښتنه : تاسې د ۱۹۹٦ کال د سپـتمـبر په مياشت کې پاکستان ته تللي وې آيا ستاسې دا سفر رسمي وو او که شخصي ؟

ځـواب : زما سفر دا دواړه اړ خونه درلود ل . ما غوښتل چـې پاکستان کې ملګرې او دوستان ووينـم خو زه د پښتونخوا د قـومـې پارټـۍ (ګوند ) د مشر ښاغلي مـحمـد افـضل خان «خان لالا» لخوا چې په هغه وخت کې د پاکستان په کـابينـه کې د کشمـيـر او شمالي علاقه جاتو مـرکزې (وفـاقـې ) وزيـر وو ميلـمـه شوم چې د همدې کـبله مې د دولـتي ميلمه (Stateguest) حيثيت لرو .

پوښتنه : تاسې ته په هوائـې ډګـر کې د هرکـلي د پـاره څـوك راغـلي وو ؟

ځـواب : زه د اسـلام اباد هـوائـي ډ ګـرته د سـهـار د چـاى په مهال ورسيدم هلته زمـا د هرکلي لپاره پـخپـله ښاغلي مـحمد افـضل خان« خـان لالا » ، دوستان ، خـپلوان او ګڼ شمير ګوندي ملګرې راغلي وو . د راغـلو کسانو سـبـره د رو غـبړ وروسته د حاجي نظرمحمد خان سره چې په راولپينډې کې ئې په خپل هوټل (Paradise Hotel) کې د سهار ناشته تيار ه کړې وه لا ړو . د ناشتې او ملګروسره د خبرو اترو وروسته پـه اسلام اباد کې د "خـان لالا " کـورتـه ورغـلو هلته د دوه شپو تيرولو نه پس د خـان لالا اصلي هستوګـنځې سـوات ته لا ړو . په سوات کې د څو شپو تيرولو نه وروسته بيا پيښور تـه خپل کور ته راغـلم او په ټـول پاکستان په تيره بيا په پښتونخوا کې وګـرزيـدم .

پـو ښـتـنـه : تاسې هلته د چا سره ليدنې کـتنې وکړې ؟



ځـواب : د وفاقي (مرکزې ) وزيـر ښاغلي محمد افضل خان «خان لالا» د ميلمه په توګه ماته د پاکستان د زيات شمير مهمو سياسي ، دولتي سريتوبونو (شخصيتونو ) سره د ليدنو کـتنو پوره امکانـات وو خو ما د هم نظره سياست مدارانو ، ليکوالا نو او ملي سريتوبونو (شخصيتونو ) سره وليدل .

پوښتنه : که د يوشمير سيـاست مدارانو او مهمو سريتوبونو (شخصيتونو ) نومونه ياد کړئ ښه بـه وي ؟

ځـواب : د ټولو د نومونو څخه خو کـتاب جوړيدلى شي خو بيا هم د يـوشمير مهمو سريتوبونو نومونه اخـلم : خان بابا ولـي خـان او نـسـيـم بـې بـې (چې پدې ليدنه کـتنه کې زما سره زمونـږ د ګوند د مشرانو د جرګې غـړى ښاغلي خان محمد مبارز "خاپـې" هـم ملګرې وو ) ، د عـوامي نيشنل ګوند مشر ښاغلي اجـمـل خـټـك ، د پښتونخوا د قـومـي پارټـې (ګوند ) جنرل سيکـرټـرې ښاغـلي افـراسياب "خټك" او صوبائي (ولايتي) مـشر ښاغلي محمد ارشد خان ، د قومـي اسمبلي ممبر ښاغلي عبد الطيف اپريدې ، ښاغـلـي حاجي غـلام احمـد بـلور ، ښاغلي ارباب همايون خان خليـل ، ښاغلي سيد بـلال شاه ، ښاغلي ارباب دوست محمد خان ، ښاغـلي اربـاب نـثـار خان ، ښاغلي بابو فضل الخالق ، د کارګرو د ټولنـې مشر ښاغلي ګـل الرحمن خان ، د ملګرو ډاکـترانو د ټولنې مـشـر ښاغلي ډاکـتر مـحـسـود ، د پښتو اکـاډ مـې مشر پوهاند راجولي شاه خټك ، ښاغلي قـلندر مـومند ، ښاغلي رحمت شاه سائل ، ښاغـلـي قيصرخان ، ميرمن عصمت شاه جهان ، ښاغلي عـلي اکـبر سيال ، ښاغلي هميش خلـيل ، ښاغلي شمس بونـيرې او نور

همداراز ما د افغانستان د سوسيال ډ يموکرات ګوند (افغان ملـت ) د مشر ښاغلي شـمـس الهدا " شـمـس" ، د ازاد افغانستان د ليکوالو د ټولنې د چارو چلوونکي ښاغلي زلـمـي "هيواد مل" او د بـرې پښتونخوا (افغانستان ) د يوشمير نورو مهمو سريتوبونو (شخصيتونو ) سره چې د کـونـړ ، ننـګـرهار ، پـکـتيا ، کـابل ، قـند هـار



او د هيواد د نورو برخو څخه راغـلي وو ليدنـې کـتنې وکـړې او د سـيمـې په حـالاتـو موچې په بـيره د بدلون په حال کې وې خبرې وکړې .

همداراز د انقلا بـي حجرې مـيرنې ملګرې ښاغلي سکـندرخـان خليل زمـا سره پـه لـيدنو کـتنو کښې ملګرې وو .

پوښتنه : تاسې د سولې او ارامـې په نښـتون کې د پښتنو او د سيمې حالات څنـګه ارزيـابـي کـوئ ؟

ځـواب : ترهغې چې پښتانه و يشل شوې وې سولـه او ارامـې په سـيمه کې نه شي راتللي . په سيمه کې د سولې او ارامې لپاره د پښتنو يووالي شرط دى . تراوسه پورې د پښتنو ويش د منځـه وړلو په مخه کې غـټ خـنډ د لوديځ او ختيځ ترمنځ سره جګـړه او د کمونيزم او اولسولۍ (ډ يموکـراسۍ ) مقابله وه چې د پښتـنو تـاتوبـې پښتونخوا ئې د خپلې پهلوانۍ ډ ګـر ګرزولى وُ خو اوس چې سره جګړه د منځه تللې ، بلا کونه خـتم شوې اولسولي (ډ يموکراسي ) په کمونيزم برې موندلی دی نو د پښتنو د يووالي د پاره حالات ښـه شوي دي دا ځکه چې په نـړۍ کښې د بلا کونو ايډ يالوژيکي اختلا فونو او پر زولـو دور تير شو او اوس اقـتصاد او اقتصادي عـلا يقو ته مخه شويده .

د نـړۍ نوى نظم جوړيږي او د انظم د اقتصادي علا يقو په بنياد ولا ړ دى چې اولسونه پـکې د خپلو اقـتصادي علا يقو د پاره په کوچنيـو او غـټو وحدتونو کې يو ځاى کـيږي . سياست او پوځ منطقوي خوې پيدا کوي او د اقتصادي وحدتونو يا مـنډه ئي ګـانـو پـه خدمت کې راوستل کيږي چې دا د پښتنو نه هم نوې انـډ او سـوچ غـواړي چې خپل سياست ته منطقوي بـڼـه ورکـړي او د ټولې منطقې سياست ئې وګـرزوي تر څو چې پښتانـه په يـوه اقـتصادي وحدت او يا يوه مـنډه ئې کـې راشـې .

ترکمنستان ته د پښتنو په خاوره کې د تجارتي لا ر جوړيدنه زمونږ په سيمـه کې هم د منـډه ئې د جوړيدلو ، ابادۍ نښه او د پښتـنـو د

يووالي زيري دي.

پوښتنه: تاسي خود پښتنو د نورو مشرانو سره هم د نظريو بدلون كړی دی د هغوی په دې هكله څه نظر دی؟

ځواب: ټول هغه مشران چې ما ورسره خبرې كړي دي په دې نظر دي چې د پښتنو يووالي تاريخي ضرورت دی خو دا چې په كوم شكل كې سره يوځای شي مشران ئې د قام رائې او خوښې ته پرېږدي. د پښتونخوا قومي پارټي (گوند) مشر ښاغلی محمد افضل خان «خان لالا» په دې لړ كې د "پښتون قامي وحدت" د نامه لاندې د رسالې په بڼه كې پيغام پښتنو ته وړاندې كړی دی په دغه پيغام باندې د پښتونخوا په دننه كې غونډې او بحثونه روان دي په بهر كې پرې هم د پښتنو د بحثونو او غونډو د جوړېدو ضرورت ليدل كيږي، د غونډو او بحثونو په ترڅ كې به معلومه شي چې د افغانستان او پاكستان ترمنځ كنفدريشن د پښتنو د يووالي يوازينی شكل دی او كه نه بله كومه غوره لاره هم شته.

پوښتنه: قبائيلو ته د پاكستان په قومي اسمبلۍ كښې د ووټ (رای) حق وركړل شو ستاسي نظر په دې هكله څه دی

ځواب: زما په عقيده د پښتنو يووالي يوه لړۍ ده چې د

بری پښتونخوا څخه لری پښتونخوا ته د پښتنو په كډې كولو سره په عمل كې پيل شوی ده دا لړۍ ډيری برخی لری او په هره برخه كې گامونه اخستل ضروري دي تر څو چې بشپړه شي قبائيلو ته د ووټ (رای) وركولو حق، حقدار ته د حق وركولو مانا (معنی) لری او د پښتنو د يووالي په لور گام دی.

هيله ده چې په صوبائي (ولايتي) اسمبلۍ كښې هم د ووټ (رای) حق وركړل شي.



زما قلم د خوشحال خان، ميراث دی تنگ به ليكي
د ايمل خان د ناترو د وينو رنگ به ليكي
زما قلم مې د بابا، قلم دی پټ به ليكي
د ميرويس خان، د پښتنې ميراث غيرت به ليكي
زما قلم د خپل وطن د ناموسونو امين
دی به د ملك د غاصبانو په سر برك غورځوی
زما قلم د خيبر، خوله كښې د پښتنو امانت
دی به د ملك په د ښمنو به مخ برك غورځوی

اجمل ښتك



عصمت الله روحاني «كاناډا»

# شهيده

ستا په ميرانه باندې تل دی افتخار شهيده
دا قرباني دی مونږ ته پاتې ده يادگار شهيده
په سركو وينو دی رنگين ښكلی بدن شو كفنه
ستا په سركو وينو ازاد زمونږ وطن شو كفنه
دا سری جامې دی وی په غاړه ستا كفن شو كفنه
ستا په سركو وينو ازاد زمونږ وطن شو كفنه
سره بيرغونه دی رپيږی په مزار شهيده
په هيڅ ډگر كښې د د ښمن نه ويريدلی نه ئې
په سپين ميدان ورته ولاړ وی تښتيدلی نه ئې
دغره په څير د جنگ له ځايه خوځيدلی نه ئې
ته وی مخكښ د جنگ پطور بل خواته تللی نه ئې
په اخرت دی شه نصيب د رب ديدار شهيده
پلار دی په سپينه ږيره، كړو په ملا، زخمونه گوری
ستا په تندی باندې د سرو وينو خالونه گوری
ستا په بدن د مرد كوسوی داغونه گوری
دا د جهاد په وينو رنگ ستا اندامونه گوری
سترگی اوچتی دی هرچاته ستا د پلار شهيده
كونډه ميرمن دی د راتللو په ارمان ژاړی
واړه دی شو بې سرپرسته يتيمان ژاړی
ای ځوانيمرگه تاته ټول خپل او خپلوان ژاړی
ستا په بيلتون كښې كړيدلی ټول دوستان ژاړی
سپيڅلی وينی دی بهيږی له پرهار شهيده
سپين سری مور د رته په ستينو كښې غيرت ياد وی
ستا قربانی ميرانه توره شجاعت ياد وی
ستا د وطن سره وفا او صداقت ياد وی
ستا حوصيله استقامت ستا متانت ياد وی
په گرمو ډزو كښې ستی شوی په انگار شهيده



الله به تاته ای شهيده لوړ مقام دركوی
ټول كاينات تاته درود تاته سلام دركوی
دا پرښتی د جنت زيری او انعام دركوی
د جنت حوری به د سرو لبانو جام دركوی
د خدای رحمت به وی هميش ستا په كردار شهيده
دا ستا جهاد په پيسو باندې د لالان خرخوی
وسله او ټانك دی ډير ارزانه خاينان خرخوی
دا خوږ وطن او ښكلی سيمه او وجدان خرخوی
په سودا گرو باندې خپل دين او ايمان خرخوی
كانی لعلونه دی شوخرڅ په هر بازار شهيده
هر څه تالا شو دا عزيز وطن دی وران شو كنه
واړه هيواد دی كنډ واله او قبرستان شو كنه
بې گناه خلك پكی مړه ځنی زخميان شو كنه
ميرمني كونډې شوي واړه ئی يتيمان شو كنه
خپلوانو سپك كړی څه گيله ده د اغيار شهيده
سركه راپورته په كمپو كښې ناروغان وويـنه
پښيا بله كونډې او سرلوڅي يتيمان وويـنه
دا اواره اودر په در وطنداران وويـنه
دا غمزپلي دا دردېدل افغانان وويـنه
ستا بركت روحانيت ته انتظار شهيده
له خدايه مونږ ته اتفاق او اتحاد غواړه
مونږ ته د سمی لاری لوری او ارشاد غواړه
زمونږ اولس ته كاميابی د خپل جهاد غواړه
مونږ ته انصاف او عدالت زمونږ مراد غواړه
چې «روحاني» سره شومل په سمعلا رشهيده
ستا په ميرانه باندې تل دی افتخار شهيده

# نوی زړی

خبریال : عزیز پیرشاه ،،

فرانکفورت : د پښتنود تولنیزا ولسولیزګوند د فرانکفورت د څانګی لخوا د پښتو د ستر فلسفی ، شاعر ، ادیب ، انځورګر ، لیکوال او سیاستدان اروانباد غنی خان په یاد کی د ۱۹۹٦ کال د جنوری په ۳۰ نیټه یوسیمینار جوړ شو د پښتنوکلتوری تولنی (کولن ) اود پښتون کور (بن ) کلتوری مرکز هم د دی سیمینار په جوړولوکی برخه اخستی وه .
په سیمینارکی د پښتنو شاعرانو ، لیکوالانو او دایپانو څخه علاوه په جرمنی کی اوسیدونکو ګڼ شمیر پښتنو برخه اخستلی وه .



،، خان عبدالغني خان ،،

د سیمینار په پیل کی د قران کریم څو مبارک ایاتونه تلاوت شول او د اروانباد روح ته دوعا وشوه اوښاغلی لالا اقبال د سیمینار د برخه والو لخوا د سیمینار مشروتاکل شو . ورپسی د پښتنود تولنیزا ولسولیز ګوند مشرښاغلی ډاکتر کبیر ستوری د غنی خان د ژوند په مختلفو



اړخونود ساه پوهنی د نقطی نظره رڼا واچوله ورپسی ځوان لیکوال ښاغلی زرین انځورخپله مقاله ولوسته اود غنی خان د ږیرج سیل جوړیدو وراندینه ئی وکړه چی د ګډ ون کوونکولخوائی پوره ملاتړ وشو . بیا ښاغلی ډاکترماخان شینواری خپل تعزیتی پیغام ولوست ورپسی ښاغلی ببرک د قیق ، ښاغلی ډاکترمحمد صابر مومند ، ښاغلی لطیف اپریدی ، ښاغلی اباسین ، ښاغلی محمد شیرین ګرد یوال ، ښاغلی حاجی فضل الرحمن شیر او ښاغلی خان محمد مبارز څاپی د اروانباد غنی خان په یاد کی ویناوی واورولی او شعرونه ئی ولوستل .

کولن : د پښتنو کلتوری تولنی لخوا د پښتنود نامتولیکوال مرحوم محمد صدیق روهی په یاد کی د 1996 کال د جولای میاشتی په ۱۳ نیټه یو سیمینار جوړ شو . په سیمینارکی د پښتنوشاعرانو ، لیکوالانواوپه جرمنی کی اوسیدونکو افغانانو برخه اخستی وه .
د سیمینار مشری د پښتنود کلتوری تولنی مشر ښاغلی محمد شیرین ګرد یوال کوله . د سیمینار په پیل کی د قران کریم څومبارک ایاتونه تلاوت شول او د خدای بخښلی کاندیداکاډ میسن محمد صدیق روهی روح ته دوعا وشوه ورپسی د سیمینار د برخه والوله خوا د اروانباد په یاد کی مقالی ولوستل شوی اود ښاغلی ډاکترخوشحال "روهی" لخوا د اروانباد روهی په ژوند رڼا واچول شوه .

## د ژوند په یاد

نوې کال دی نوې ژوند دې نوي نوي امیدونه دي
مل ئی پسرلې دې چی راوړی ئی ګلونه دي
اوس د شاعرانو په قطار کی ودریدلی شي
خوله کی د بلبلو د ایمل ستوری شعرونه دی

﴿ایمل خان ستوری﴾



جرمنی : په خواشینی سره مو خبر اخستی چی د کونړونو ولایت د نورګل د علاقه داری اوسیدونکی اروانباد وحید ګل «کمروال» د مسافرت بی کوری او مهاجرت په حال کی د المان د کولن په ښار کښی د ځوانۍ په عمر لدی فانی دونیا څخه سترګی پټی کړی دی .
اروانباد ځوانیمرګ کمروال د نورګل د علاقه داری په یوه درنه کورنی کښی زیږدلی او په کال ۱۹۹٤ په لومړیو کی د المان اتحادی جمهوریت ته مهاجر شوی دی . خدای بښلی کمروال د پښتو او پښتونولی سره زیاته او بی کچه مینه لرله له همدی امله ورته د پښتنود تولنیزا ولسولیز ګوند د غړیتوب ویاړ حاصل وو .
د پښتنو تولنیزا ولسولیز ګوند د ده مړینه افغان اولس او تولو پښتنو ته یو نه هیریدونکی او نه جبران کیدونکی زیان بولی او د ده کورنۍ او خپلوانو ته د لوی خدای ج څخه د صبر غوښتنه کوی او پدی دردیدونکی غم کی ورسره ځان شریک ګڼی . روح دی ښاد وی . جنت فردوس دی په نصیب شی .

پیښور : د عوامی نیشنل پارتی مرکزی نائب صدر ښاغلی حاجی غلام احمد بلور ځوی مرحوم بشیر احمد بلور د ۱۹۹۷ کال د اپریل میاشتی په دریمه نیټه د پیښور په زرګراباد کی په یوه غمزپلی اوبدبخته پیښه کی په حق رسیدلی دی .
د پښتنو تولنیزا ولسولیزګوند د خدای بخښلی ځوانیمرګ بشیر احمد بلور مړینه پښتون اولس ته یو نه جبران کیدونکی تاوان بولی اود خدای بخښلی روح ته دوعا کوی اود کورنۍ ، خپلوانو او دوستانو ته ئی پدی غم کی ځان شریک ګڼی او خواخوږی ورسره ښکاره کوی . روح دی ښاد وی .



د پښتنو د تولنیزا ولسولیزګوند د مشر سلاکار ډاکترعبدالله عزیز په حق ورسید
انالله وانا الیه راجعون




ډاکترعبدالله عزیز د مولانا عبدلعزیزخان الکوزی زوی په کال ۱۹٤۸ م د جنوری د میاشتی په لسمه نیټه د کابل په ښار کښی زیږیدلی دی .
اروانباد ډاکترعبدالله عزیز په ۱۹۵۵ م کال د کابل د نادریی په لیسه کی شامل او په ۱۹٦۸ م کښی ئی د همدغه لیسی څخه د بکلوریا شهادتنامه (بری لیک ) ترلاسه کړی دی چی د زده کړی په دوران کی د همدی لیسی څخه د امریکا متحده ایالت ته د یوکال لپاره (۱۹٦۷–۱۹٦۸ ) د کلفورنیاایالت ته د نوری زده کړی لپاره ولیږل شو .
په کال ۱۹٦۸ م کی د کابل پوهنتون د طب پوهنځی ته بریالی شو او په کال ۱۹۷۵ م کی له دغه پوهنځی څخه بری لیک واخیست .

د ۱۹۷۵ څخه تر ۱۹۸۰ م کال پورې ئې د ایران په اصفهان او همدان کې د ډاکټر په توګه دنده ترسره کړې ده.
په کال ۱۹۸۰ م کښې د خپلې کورنۍ سره یوځای د المان اتحادي جمهوریت ته مهاجرشوی او دلته ئې د کال ۱۹۸۲ م راهیسې د المان په بیلا بیلو روغتیائي موسسو او روغتونونوکې د مرستیال ډاکټر او ډاکټر په توګه کار کړی دی.
اروابناد ډاکتر عبدالله عزیز د پښتواو پښتونولی سره بې کچه مینه درلوده او د یو طبیب په حیث د رنځورو افغاناتو د علاج او خدمت سره سره ئې د پښتونخوا / افغانستان د سیاسي استحکام سولې ارامۍ او د پښتنود یووالي او اباد ي لپاره ئې د پښتنود ټولنیز اولسولیزګوند د مشرانود جرګې د غړي په حیث چې د پښتنود ټولنیز اولسولیزګوند د مشرد سلاکار په توګه د ستاینې وړ هلې ځلې کړې دي.
اروابناد ډاکترعبدالله عزیز د خپل هیواد د کلتوري هلوځلوڅخه هم بې برخې نه وو چې له همدې امله د المان د کولن په ښار کښې د پښتنود کلتوري ټولنې د مشرانود جرګې د غړي په حیث ئې خپل هیواد او خلکو ته ډیر خدمت کړی دی.
اروابناد ډاکتر عبدالله عزیز د ۱۹۹۷ م کال د اپریل په پنځمه (۵) نیټه د زړه د ودریدو له امله په ناڅاپي توګه د المان د کولن په ښار کې له دې فاني دونیاڅخه سترګې پټې کړې

انالله وانا الیه راجعون

د اروابناد ناڅاپي مړینه د مهاجرت په حال کې نه یوازې د خپلې کورنۍ بلکه د ټولو هیوادوالو لپاره یوه بدمرغه او زړه دردوونکې پیښه ده. د پښتنو ټولنیز اولسولیزګوند د خدای بخلي کورنۍ، دوستانو او خپلوانو ته د لوی خدای ج څخه د زړه صبرغواړي او روح ته ئې دوعا کوي جنتونه دې په نصیب شي. اروا دې ښاده وي.

د هدف لپاره لیارې لټوه خو د لیارې لپاره هدف مه بدلوه.
دوکتور کبیر ستوری



ګل غوټی (کونړی)

# مخ پټونی

پسطرغونې پخوانی باجوړ کښې ویل کیږي یوه ډیره په زړه پورې کیسه تیره شوې ده:
په پخوانیو سدیو کښې هلته یوه نوموړی نامتو نواب ژوند کاوه او د ډیروکلیو نوابي ئې په غاړه وه او په خپل چاپیریال کښې ئې یوه امپراطوري جوړه کړې وه او د لویو دنګو هسکو ښکلو بنګلو او (۹) نهه برجو کلاو خاوند وو. ډیرې بې شمیره للمې او اوې ځمکې ئې درلودلې او ډیر زښت زیات بزګران، مزدوران، غلامان او کسب کار ئې درلودل او ټول به ئې بیګار پرې کاوه. دهقانان اومزدوران ئې یوه ګړۍ هم د ده دامرونو او بیګارونو د لاسه ارام نه درلودتل خواران سرببري او لوږې پښې د نواب صاحب د زړه د غوښتنود هیلو د تر سره کیدو په سختو درندو کارو اخته وو. پرله پسې ورځې او شپې تیریدلې او د شلشمو (شړشمو) د زیړو ګلو باجوړ د پسرلي په راتلو غوړیدلي وو. او د اسې بریښیده لکه د زیړ بخمل ټوکر دې په دغه تاټوبي غوړولي وي د شاتو مچې د مستیو په نڅا ستړي شوي وې او د شړشمو د شرابو په څکلو مستانه او خماري ښکاریدې. د نواب صاحب د میرمن د شعندروز ښکلي د چرمو شین رنګه باجوړي کمیس په غاړه وو چه د زنګانه ترسره بې وو خو پرتوګ ئې د (۱۵) پنځلس مترو څخه جوړ شوی وو او د خپلې کلا د یوې کوټې څخه چې به بلې کوټې ته راوته نو څلورو سویلو به ئې (مزدورو ښځو)، د پرتوګ یوه پیانځه دوو سویلو او د پرتوګ بله پیانځمه ئې دوه نورو سویلو په لاس کې نیولې وی. او بي بي صاحبې به لکه د سبا ناوې قدمونه اخستل او روانه به وه د سروزرو



یوه لویه درنه جنجالي اوګۍ په غاړه وه او ورمېږ ئې ورته کوږ او را کوږ ځنګیده او د شړومبو د منداتو په شان حرکت ئې کاوه، خو د زیات ډول او سینګار د لاسه به کږه وږه روانه وه او د بنارسۍ لوپټه ئې په سر وه او د اسې یو اوږد لونګین ئې په غاړه وو چه د زنګانه تر سترګو ئې رارسیده او په لونګین کښې د زمرودونوکه چې په سرو زرو کښې نغښتي وه ځلیده د پښو او لاس لس (۱۰) ګوتې ئې د سرو زرو په ګوتو پټې وې او په پاس غوږونو کښې ئې د سرو زرو والیو ټالې وهلې او په لاندې غوږونو پاوکي د سرو زرو کوتورو والي ځنګیدې په پوزه ئې د سرو نتکۍ سره د سرو زرو یو غټ چارګل لیدل کیده. او زیاته ښکلې هم وه. سویلو ورته په چجونو پکې وهلې اود نواب صاحب میرمنې ته بې له کیسو خوب نه ورته یوې سویلې به ورته د جلات او محبوبې او یا ادم او درخانۍ کیسې کولې او بلې به ورته بګتې هم ویلې تر څو بې بې ته خوب ورشي!.......... .. .........
یوه ورځ د ورځو څخه د نواب یوه مزدور ځانته واده وکړ او ډیر لیرې کلي څخه ئې د خپلې ناوې ډولۍ کور ته راوسته. د پسرلي د ورځو شپو ښکلې شیبې تیریدې د نواب مزدور خپلې ښکلې د بارګام ښاپیرۍ ناوې ته مخ وراړوه او ورته وې ویل ناوې سبا به بیا وختي که خیر وي د نواب بیګار ته به ور روان یم ناوې په شرمیدونکي او غلي اواز وویل دغه شي بیګارته...
خاوند ئې ورته وائې دلته په کوز کلي کښې نواب د خپل وروکې زوی لپاره چې لا واده ئې ورته ندې کړی یوه لویه کلا رانښلولې ده چې د محبوبې د کلا څخه هم لویه ده او ډیر لوړ لوړ دیوالونه ورته جوړوي چې د هغې



کلا د ختو د بیګار لپاره ځم ناوې ورته وویل چې زه به هم د رسره لاړه شم د ناوې خاوند ورته وویل نه مړې ته څه کوې ته خو لا اوس ناوې ئې او په کټ کټ ئې وخندل ستا خو د ناوې توب د نکریزو رنګ ندی پاک شوی. ناوې ورته ټینګه شوه چې نه زه به حتمي درسره ځم او دغه د بیګار کار به په ګډه سره وکړو.
د ناوې خاوند بیا هم داسې وویل کله چې ستا د ناویتوب د میلمستیا ورځې تیرې شوې بیا به راسره لاړه شې. هسې لټې مه کوه کرارې کښینه هغه د ې ندې اوریدلي چې غم د ې د لالي په سر مسته د ې تازه ګرځي. سره خوله په دنداسه اوتورې سترګې په رنجو ناوې وویل هله به زما د ناویتوب ورځې وای چه ته خو راسره په کور کښې وای ته بې سرببرې بډې وهلې د نواب ختو ګټو ته ځې او زه به په کور بې غمه ناسته اود ناویتوب میلمستیا به خورم...
نو دغه درسره نه منم زه هم درسره ځمه خاوند ئې ورته وویل راځه د خدای زوره ورې چې څوشهار وختي له کوره ووتل او د نواب د کلا د ختو جوړیدو په لور رهي شول کله چې هغه ځای ته ورسیدل ټولو ختګرو او مزدورانو دوی ته د واده مبارکي وویله او بیائې توکې ټکالې ورپسې شروع کړې یوه وویل خوار شې د نواب د کلا کار دومره سترې کړې ئې چه اوس دې د ځان سره خپله ناوې هم راوسته هغه ورته په ځواب کښې وویل چې خپله ئې زړه راباندې وسوځیده او راسره راغله او وئې ویل چې زه به هم د بیګار کارته درسره لاړه شم او همداسې راسره راغله د ختو جوړیدو کارپیل شو او ټول ختګري او مزدوران سخت په کار بوخت وو ناوې سره د خپل خاونده چابکه چابکه د ختو په جوړید ولګیا وه او د نکریزو په سرو منګلو او په سرو پښو په کار لګیدلې وه د ختو د چقرود چرچقوا وازونو او غږونه پرله

پسی جگید ل اود لته هلته ورو ورو گونگوسی همترغوزه‌کید ه‌چی
اوسنوا براخی اولا پرلاره بهوی اوهمداسی اوزدی اوزدی ساه
ویستل کیدی ختـگرلزخمستری بنگا ریدل اود ختـود چقـرو
د چرچقوا وازونه اوغزونه‌داسی پورته‌کید ل لکه‌چیری وروکی خرکی
سیلا ب راروان وی اود غرورغونو‌پهبید یا و رامخه شوی دی ناوی
د خپل خاوند سرهسم بدی وهلی وی اوختـی ئی په پښوباندی پرله
پسی کیمند لی لاتراوسه دکلا دری دیوالونه سرته رسید لی وواو
یود یوال لا پاتی وو پدی وخت کښی نواب راورسید نابیـره چوپتیا
شوه ناوی سمدلاسه مخ پټکړد خپل ناویتوب په‌سورسالو پړونی
باندی تابه ویل لکه سپینه سپوږمی په سرو وریځوکښی د وبـه
شوه په‌دغه وخت کښی څوتنو ختـگروچی د خاوند نږدی ملگری ئی وو
ورته‌ئی مخ وروا ړاوه اووی ویل چی ناوی خوری زمونږ څخه‌دی مخ پـټونی
ونکـراونواب چی راغی تا مخ پټکړ ناوی ورته وویل لـتاڅخه به
ولی مخ پـټوم که تاڅوکښی سړیتوتا ونرتوبوای د هغه یوه سړی (نواب)
سړیتوببه پټاسی نه چلید ه اوتاسی تول به غد هغه‌یوهباز مرزان
نه وای ختـگروته خود یوی‌نوی ناوی د خولی پیغـورداسی یوگذار
ورکړشو چی سمدلاسه ئی په نواب ورتوپکـراونواب ئی د خپلو
بیلونوا وکوتکونود لاندی مـرکړنود غـه تول خواران مـزدوران د تل
لپاره دنواب صاحب د بیگارونوا ووهلوټکولوڅخه خلاص شول او
د خپلوکلوڅخه ئی یوسپین زبری د قام مشراود ملك پهنوموتاکه اونواب
چی د چا څخه‌ځمکی په‌زورنیولی وی بیرته‌په‌خپلو خاوندانو وسپارل
شوی او حق په‌حقدار وسپارل شود کوند ویتیمانوما لونه ورکړل شو او
په همدی ترتیب د باجـوړ په شین اسمان د سبا ستوری
وځـلید تـوری تـیاری ورکـی شـوی او د سـباوون رنـا خـپره
شـوه ٠

> نوره واړه پښتونخوا په ځای پرته ده
> دا یو زه دی زمانی پکی منصور کړم
> (خوشحال خان بابا )



# پښتون قامی وحدت

**﴿خان لالا محمد افضل خان﴾**

ښاغلی محمد افضل خان «خان لالا» د ښـاغلی محمد حبیب خان زوی د ۱۹۳۱ عیسوی کال د جنوری په لومړی نـیـته د سـوات په د ورشخیله کی زیـږدلی دی. ده خپله زده کـړه د پیښور په اسلامیه کـالج گورنمنټ کـالج لاهور او لا ( Law ) کالـج پیښورکښی ترسره کـړی‌ده اود ا یـم ای ( M.A. ) او د ایل ایل بـی ( L.L. B ) دگـری‌گانـی (شادتنامی) لاس‌ته راوړی دی .

ښاغلی خان لالا اگـر یـکـلـچـریسټ ( Agriculturist ) دی دی‌د سوات د بار کونسل ( Bar Council ) بنسټ ایښود ونکی او صدر (مشر) پاتی شوی‌دی. په کـال ۱۹۷۰ کښی د پاکستان د صوبه سرحد (پښتونخوا ) صـوبائی اسمبلی‌ته وټـاکل شو او بیا په همدغه کال کښی د صوبه سرحد (پښتونخوا ) په کـابیـنه کـښـی د زراعت (کرنی ) او Local Bodies وزیـر وو.

په کـال ۱۹۹۰ کښی د پاکستان قـومـی اسمبلی‌ته معبر وټاکل شو . په کـال ۱۹۹۳ کښی یوځل بیا د قـومـی اسـمـبلی مـعـبـر انتخـاب شو او د ۱۹۹۳ کال د اکـتوبر په میاشت کی د پاکستان مرکزی کـابینـه کښی د کـشمیرد چارو اود شمالـی علاقـه جاتو وزیـر شـو . په کـال ۱۹۹۶ په ۱۲ د اکـتوبر د پاکستان په مـرکـزی کـابـینه کښی د روغـتـیـا ریلوی ( Railways ) او Population Welfare وزیـر شـو.

"پـښـتـو ن قـا مـی وحـدت" دا د هغه پـیـغام نـوم دی چی د مـحـمـد افـضل خان خان‌لالا لخوا د رسـالی په شـکـل خـپـور اوتولو باشعوره لیکوالو، ادیبانو، پـوهـانو، سـیاستـمدارانو او خـواری کښو پښتـنو ته وړاندی شوی دی.



پدی پیغام (پښتون قـامـی وحدت) کښی د پښتنو د یووالـی په هکله هـرا ړخیز معلومات را تـول شوی دی . محمدافضل خان «خان لالا» د پیغام په اخرکی لـیـکـی



زه د رب ذ ولجلا ل بی حد شکرگذاریم چی ما د یو پښتون په حیث زپـلی پښتون (افغان ) قـام ته دامختصرشان پیغام وړاندی کړو. او پوره باور لرم چی د دی منـتـشر قـام هر غـړی چی هرځای وی ، په هرحال کی وی او د هری پیشی مالك وی بـه خپل فـکر او قـلم دامـن او مینی په لار د خپل قـام د وحدت او تشخـص د حـصول طرف ته راوگـرزوی . او د دونیا تـولـو مـهـذبـو قـامـونو او انسان دوست تنظیـمونو ته داخواست کـوم چی د افـغـان (پښتون ) قـام سره خپله فعاله سیاسـی او اخـلا قـی مرستـه مـل کـړی چی په پـیـړ و پـرد دا زپـلی قـام دغـاصـب دتـقـسیـم دنـا وړو شـکـنـجـو نـه ځـان خـلا ص کـړی او خـپل قـا مـی وحـد ت تر لا سـه کـړی .




## که سپوره وي که پوره وي نو په شریکه به وي

**﴿باچا خان﴾**

**Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt.**
( Batscha Chan )

**Buttered or unbuttered bread will be common.**
( Bacha Khan )